اسلامي لارښود سايټ

# د ماشومانو ستونزې او د هغو درملنه

ليکوال: د/ أحمد المزيد

ژباړن: أمير حمزه الأحمدي



www.larkhud.com

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# د ماشومانو ستونزې او درملنه

ليکوال:
دکتور أحمد المزيد

ژباړن:
أمير حمزه الأحمدي

هيواد والو د ديني پوهاوی باورې سرچينه
Www.larkhud.com

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# يادونه:

په ټولنيزو رسنيو کې د اسلامي لاربښود سايټ د نوم په يادونې سره هر چاته دکتاب نشرولو اجازه ده، خو په کتاب کې بدلون او تغير راوستل او يا په خپل نوم د خپلې لوګو سره خپرول اخلاقي جرم دي، بايد ډډه ترې وشي.

**په درنښت**

**د اسلامي لاربښود سايټ اداره**



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

د چاپونې ټولې رښتې د ژباړن سره خوندي دي

## د کتاب ځانګړنې

---

د کتاب نوم: د ماشومانو ستونزې او درملنه
ليکنه : دکتور أحمد المـــــــزيد
ژباړن : أمير حمزه الأحمدي
کمپوز : ژباړن
چاپ کال : ۲۰۲۰م
چاپ شمېر: ناچاپ
خپرندوی: اســـلامي لاربنود ســـايټ

---

هيواد والو د ديني پوهاوی باوري سرچينه
Www.larkhud.com

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء محمد وصحبه ومن تبعه بإحسان إلى يوم الدين.

أما بعد :

بيشکه چی مونږ او تاسې په داسې يوه وسيع او خلاصه نړۍ کې شپې ورځې سبا کوو، چې له يو وړوکي کلي يا سيمې سره ورته والی لري، چی د يو بل څخه هر څه زده کوي، لکه دودونه، أخلاق ، خويونه ، کړنې ، ښيګڼې، ارزښتونه او حتی بد او ناوړه اخلاق يو تر بله ليږديږي.

دا هر څه د اړيکو او تماس په لړيو کې د هغه بې سارې پرمختګ له برکته دي، کوم چې د نورو قومونو او ملتونو عادتونه رواجونه د ټلويزيوني چينلونو او انټرنيټ له لارو زمونږ تر کورونو راورسول.

د بچو د روزنې کړنه يې له هغه سختو او ستونزمنو چارو څخه ګرځولې ده، چې مور او پلار ورسره لاس او ګريوان دي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

په ځانګړې توګه هغه خلک چې د إسلام په تهذابونو ، حکمونو او آدابو باندې د خپلو بچو د روزنې، او لويې دنې ته غم او فکر لري.

پرته له کوم شکه چې ډيری ماشومانو د بدو يا ناوړه خويونو او عاداتو لمن نيولې ده، دا عادات او ناوړه صفات بيا د هغو ستونزو استازيتوب کوي چې پلرونه ترې د ماشومانو په روزنه کې شکايت کوي، دوی هيله او ارزو لري چې ددې د همواروالو لپاره د حل لارې پيدا کړي، نو مونږ به په لنډه توګه سره د دغې ستونزو او ناوړه عاداتونو څخه هغه ډير اړين يې ستاسو مخې ته وړاندې کوو، بيا به کوښښ وکړو چې ځيني لاملونه او د همواروالو لارو يادونه يې هم وکړو، د دې سربيره د هرې قضيې د لاملونو ترمينځ په توپيرونو د پوهيدو اړتيا ته به تر يو حده پام وکړو.

خو دا کړنه او علاج د پلرونو څخه د بچو په ستونزو کې د صبر ، زغم، ژور نظر، اوږد فکر، او غور غوښتنه کوي چې تر څو د ستونزو لاملونه وپيژنو، بيا د هغې په رڼا کې د حل لارې پلې شي،



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

هوايي خيالونو او مثالي فکرونه د ماشوم په تربيه کې سم او ډير ګټور نه تماميږي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# ۱ د ماشومانو د درواغو ویلو ستونزه او علاج

## لومړی : لاملونه:

۱- د نورو خلکو یاد د خپلو بچیانو سره د مور او پلار په درواغو باندې روږدي کیدنه لکه داسې چې ورته ووایې : که داسې دې وکړل نو زه به تاته دا څیز درکړم ، خو بیا یې نه ورکوي.

۲- د بچي په حضور کې د مور او پلار خپل مینځ کې درواغ ویل.

۳- د بچي درواغو ته هڅول ، ددې بنې زیاتې دي یوه مثال یې لکه : زوي ته ووایې چې زما موبایل ته ځواب ووایه، د پلار د شتون په اړه درواغ ووایه، چې زما پلار کور نشته سره له دې چې څنګ ته به یې ناست وي .

۴- د ناوړې کړنې په بدل کې ماشوم ته په سزا کې سختي او شدت هغه درواغو ته هڅوي، تر څو د سزا نه ځان بچ کړي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۵- د اصولو او قوانینو پرته د تلویزون کتل، ماشومان درواغو ته تیل وهي، په ځانګړې توګه دا کرتوني سریالونه کوم چې په درواغو، لومو ، او درغلیو ولاړ دي.

۶- له هغو کوچنیانو سره ګډه ګرځیدنه او ناسته پاسته چې په درواغو ویلو پیژندل شوي وي او په درواغو ویلو کې یې نوم کړی وي.

۷- کوچنیانو ته د هغو خیالي کیسو کول چې موخه ترې په پیریانو او شیطانانو د هغوي په ناشنا کالیو او ویرونکو څیرو سره د کوچنیانو ویرول او ډار وي.

## دویم : د درواغو درملنه او علاج:

۱- د مور او پلار رښتیا وینه، او په هغې ټینګ پاتې کیدل، ځکه چې په عملي نیکې نمونې یا قدوه سره تربیه د روزنې د غوره او اغیزمنو وسیلو څخه ده.

۲- د کوچني شخصیت ته وده او نمو ورکول او همدا راز په ځان باندې باور ور بخښل.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۳- په هره کړنه کې د ماشوم د رښتیا په ویلو روږدي کول ، او درواغو ته یې نه اړ کول.

۴- د رښتیا ویلو پر مهال یې په جایزو نازول ، او کله چې تېروتنه ومني، اقرار وکړي نو بیا سزا یا زورنه نه ورکول .

۵- ماشوم ته د کتنې او ننداريې لپاره د هغه وړو او ګټورو پروګرامونو پیدا کول او هغه ته وړاندې کول، چې کوچني ته په ذهن او دماغو کې اسلامي أخلاق او آداب کینوي، لکه: رښتیا ، امانت ، نظام، ترتیب ، پاکوالی او داسې نور .

۶- کوچنی له هغه چا په واټن کې ساتل چې په درواغو پیژندل شوي وي.

۷- کوچني ته د هغه کیسو کول په کومو کې چې د رښتیاوو غوره والی یاد شوی وي لکه د هغه ماشوم قصه کوم ته چې مور ورته په هر قسمه حالاتو او هر ډول شرایطو کې په رښتیا ویلو باندی وصیت کوی، هغه ماشوم د یوې قافلې په ملتیا کې سفر کوي خپله لاره ووهي، لاره کې د غلو د یوې ډلې په دام کې راګیر شو؛ نو د غلو مشر ده ته مخ ورواړاوه چې ته څه لري؟



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

ماشوم ورته وویل: ما سره زر دیناره دي.
غل وویل: چې ته په ما ملنډې وهې.
نو کوچنې ورته وویل: نه زه ټوکې نه کوم.
غل ورله کڅوړه وکتله، څومره پیسې چې کوچنی یاده کړې وې، غله تر لاسه کړې.
غل بیا ورته وویل: ولې دی درواغ ونه ویل تر څو دی مال خوندي پاتي شوي وی.
کوچنې وویل: ما ته مې مور دا وصیت کړی چی په هر قسمه حالاتو او هر ډول شرایطو کې به درواغ نه وایې او غاړه به ورته نه ږدی.
غل ددې خبرې په اوریدو سره ډیر اغیزمن شو.
بیایې وویل: کوچنی ماشوم د خپل رب پیروې کوي ، او دا خوښه نه ګڼي چی د خپلې مور سره کړې ژمنه ماته او تری وروسته شي، او زه سره له دی چی غټ سړی یم باربار د رب سره کړې ژمنه ماتوم او ترې وروسته کیږم.


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

نو بیا یې ماشوم ته وویل: ای ماشومه لاس دی را کړه زه ستا په لاس توبه وباسم ، او بیا یې خپلو کسانو ته امر وکړ چی مالونه خپلو څښتنانو ته واپس کړئ.

نو خپله او هغه څوک چی ورسره وو ټولو توبه وویستله او لاس په غوږ شول .

نو دا له هغه کیسو څخه یوه ده چې د بچو په زړونو کې د رښتیاو مینه پخوي او ماشومان د کوچنی د کړنې سره چې د رښتیا ویل دي تړي.

۸- ماشوم ته د رښتیا په غوره والي او فضلیت کې د قرآن کریم ځینې آیاتونه او نبوي حدیثونه ور زده کول، لکه د الله تعالی دا وینا الله تعالی فرمایي(یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِینَ)

ژباړه: ای هغه کسانو چی ایمان مو راوړی دی له الله تعالی وویریږئ او له هغه چا سره ملگري شئ، چې ریښتوني دي. التوبة : ۱۱۹.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایي « إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى البِرِّ، وَإِنَّ البِرَّ يَهْدِي إِلَى الجَنَّةِ»

ژباړه: رېښتيا سړی د نيکۍ لوري ته را بلي ، او نيکي سړی د جنت لوري ته سيده کوي). متفق عليه.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ۲ د ماشومانو د غلا ستونزه لاملونه او درملنه

### لومړی : لاملونه:

۱- ماشوم خپله مور په داسې حال کې ليدل چې د پلار له جامو څخه يې پيسې راخلې ولو که مور ته يې پلار د ياد کار اجازه ورکړې وي، خو ماشوم خو د پټ او اجازت تر مينځ توپير نه شي کولای.

۲- کوچنی د خپلو فطرتي اړتياوو څخه بې برخې کول لکه د بيلګې په توګه ، په هغه پورې چې کومې ځانګړې لوبې وي هغه ترې اخيستل، يا يې خپله د څه د پيرلو لپاره د تللو څخه منع کول يا بې برخې کول.

۳- پيسې په ښکاره او څرګندو ځايونو کې يو او بل لوري ته کيښودل .



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۴- په ورځني اوونيز او مياشتني لګښت کې د بچو تر مينځ توپير او بې انصافي کول ، او په پټه توګه هغه مشرانو ته زياتې پيسې يا شيان ورکول پرته له دې چې نور دې تر سترګو کړي.

۵- د کوچنيانو د خپل شخصي ملکيت په حقيقت ناپوهوالى او همدا راز د پور او غلا تر مينځ د توپير په پيژندلو کې پاتې راتلل.

۶- د بدو ملګرو او ناوړه نمونو پيښې يا پيروي کول او دهغوي په پل پل کيښودل .

۷- د هغه خوشې فلمونو ننداره کول يا کتل په کومو کې چې د غلا عادت يا خوي په ښه توګه ارزول کيږي.

۸- د کوچني زياته نازونه او هرې غوښتنې او ليوالتيا ته يې لاس په سينه کيښودل.

## علاج او درملنه :

۱- کوچني ته د نورو خلکو د ځانګړو ملکيتونو ور پيژندنه.

۲- د هغه آياتونو او حديثونو ور زده کول کومو چې د غلا څخه د خلکو منع او ويرول راغلي دي ، او دا يې په ډاګه کړي وي چې



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

غلا د هغه غټو او لویو ګناهونو څخه ده ، او الله تعالی غل ته غوسه کیږي او سزا او زورونه ورکوي .

۳- دا هم ور پيژندنه چې د خلکو له غل څخه بد راځي ، او زړه ترې بدوي .

۴- د کوچني ټولې اړینې اړتیاوې پوره کول ، او تل يې د بې برخې په سزا له زورولو ساتنه کول.

۵- کوچنی په دې پوهول چې دا ټول پيسې کوم چې په کور کې شتون لري دا د کور د اړینو اړتیاو د پوره کولو لپاره دي ، د خوراک ، څښاک، کالو ، برق ، او تحصيلي یا زده کړه ییزو لګښتونو او داسې نورو لپاره . او په دې کې چې کومه نیمګړتیا را مینځ ته شي نو دا بیا ددې اړتیاو په پوره کولو کې خنډ پیښیږي.

۶- کوچنی د هغه د لیوالتیاو یا غوښتنو په شاته نه غورځولو روږدي کول ، او د اړتیا او خیالاتو په اظهار یا راڅرګندولو کې په پوره کچه آزادي ورکول.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۷- د غلا د قضيې په درملنه کې سختي نه کول ، بلکې يوازې خبرې اترې يې د درملنې آله ده ، نو کوچنی بيا پوهيږي چې دا ناوړه خوي او په نورو باندې تيری دی .

۸- ددې ستونزې په درملنه کې سستي يا نرمي نه کول ، لکه غلا شوی څيز ماشوم سره له دې امله پريښودل چې ونه ژاړي نو دا پرته له کوم شک څخه کوچني ته دا ډاډ يا جرئت ورکوي چې د بل ځل غلا کولو لپاره د لارو چارو پلټنه و کړي .



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# ۳ د ماشومانو د ضد نیولو ستونزه لاملونه او درملنه

## لومړی : لاملونه:

۱- په ډیرو سپارښتنو، امرونو او غوښتنو باندې د ماشوم سترې کول.

۲- کوچنیانو ته د ټاکلي حد څخه زیات ناز ورکول، او ډیر پرې ویریدل.

۳- کوچني ته په دې باندې امر کول چې د لوبو توکې یې نورو ته ورکړي ، له ورونو او د میلمنو ماشومانو ته.

۴- د کوچني د غوښتنو یا لیوالتیاو درناوی نه کول، لکه هغه د لوبو او مستي نه منع کول کومو کې چې خپله لیوالتیا ښیي او مینه ورسره لري.

۵- له کوچني سره بد چلند یا رویه کول .



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۶- د تشویق او تیزۍ ورکوونکو څیزونو نشتوالی یعني د مکافاتو نشتون ، بس هغه څوک چی امر پلي کړی او هغه څوک چې امر نه پرځای کوي سره برابر او یوشان وي.

۷- د مور یا له مشرانو ورونو څخه د یو ورور او یا هم د ملګرو څخه د یو ملګري پیښې او پیروي کول.

۸- د ځینو هغه نفسي یا رواني او روغتیايي ستونزو شتون چی ډاکتر ته د تلو اړتیا لري .

## دویم : د ضد د ستونزې درملنه:

۱- د ماشومانو څخه د کار او غوښتنو لپاره د مناسب وخت ټاکل، هغه داسې چې کوچنی په کې د مزو مستۍ څخه نه بې برخې نشي.

۲- په نرمۍ شفقت او اسانه سره د ماشوم نه غوښتنه کول ، لکه سړی باید ماشوم ته داسی ووایي : ستا په خوښه، دا کار تر سره کړه ، یا دا څنګه چې کولای شي، دا کار تر سره کړه ، او یا ورته ووایي: چې ته دا دروازه خلاصه کړې نو څومره ښه کار به وکړې.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۳- ماشومانو ته په سزا ورکولو کې له زياتي ، تيري ، او ډيروالي ځخه ځان ساتنه.

۴- د امر په تکرارولو سره کوچنيانو ته بخښنه کول او کوچنيان ددی امر د پلي کولو يا پرځای کولو په اړتيا پوهول او قناعت پری ورکول.

۵- په هغه امرونو يا سپارښتنو ډير ټينگيار نه کول کوم چې ډير اړين نه وي ، بايد باربار تکرار نشي ، او ښه خبره بيا داده چې يو پلار خپل ځوي ته ووايي: زه ستا په خبره ورسيدم، نور له تا ځخه ددی کار د کولو غوښتنه نه کوم.

۶- په يو وخت کې د ماشوم ځخه زياتې غوښتنې نه کول.

۷- په کوچني باندی هغه ځه نه بارول چې توان يې نه لري ، لکه : د يو دروند او وزندار ځيز د وړلو غوښتنه تری وکړې، او يا هم ددې غوښتنه ترې وکړې چې په تورتم کې د کوم ځيز د پيرلو لپاره لاړ شه، خو هغه په لاره کې ويريږي.

۸- کوچنی د نيکۍ يا ښيگړي کولو او د امر د پرځای کولو په وخت کې په جايزه يا ډالۍ نازول ، او دا اړينه نه ده چې جايزه دی



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

مالي وي ، بلکې د کوچني ستایل او یا هم په یوه پاڼه کې د ستاینې کلمات او عبارتونه لیکل او هغه ته یې ورکول هم د جایزې یا ډالۍ ځای خپلولې شي.

۹- د کوچني ځینې لیوالتیاوی او غوښتنې پر ځاي کول ، تر دې چې پوهه شي چې مور او پلار ور سره مینه لري او دده د غوښتنو په پلي کولو کې زیار باسي.

۱۰- کوچني ته د هغه لوبو او خوښیو په سرته رسولو کې آزادي ورکول کومې چې هغه خوښوي ، او په هغه کمزورو او بې هوده دلیلونو او لاملونو سره یې مخې ته نه دریدل ، لکه د لمبا څخه پرې ویریدل ، یا دلوبو پر مهال پرې د پرځیدنې څخه ویریدل ، او یا هم د کالیو د چټلتیا څخه ویریدل او همداراز نور هغه دلیلونه کوم چې د مور او پلار په سینه تنګی ښکاره کوي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# ٤ د تاوتریخوالي او تیري ستونزه لاملونه او علاج

## لومړی : لاملونه :

۱- مور او پلار ، یا په دواړو کې یو چې کله تیری کوونکی وي، او سخت خوي ولري.

۲- د مور او پلار له لورې بچي تاوتریخوالي او نورو ته د زیان په رسولو هڅول یا ننګول.

۳- د تیري، بل ته د زیان او له ځانه د ساتنې تر مینځ توپیر نه کول.

۴- د تاوتریخوالي، جرمونو او جنایتونو فلمونه لیدل کتل.

۵- په کمپیوتر باندې له هغه لوبو ، ګیمونو سره ډیره اړیکه ساتنه، کوم چې په وژنه ، سختۍ، تاوتریخوالي او ویجاړولو باندې تکیا دي.

۶- له ماشومانو سره د کچې زیاته سختي کول.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۷- د کوچنیانو گوښه ساتنه او د خپلو همزولو سره یې له لوبو څخه منع کول.

۸- کوچنی د هغه د اړینو اړتیاو څخه بې برخې کول، لکه د لوبو توکي، ورځنی لگښت او نوي کالي .

## دویم : د تاوتریخوالي د ستونزې مخنیوی:

۱- ماشوم ته د بخښنې ، مهربانۍ او په نورو باندی د تیري نه کولو ارزښت ور په ډاگه کول.

۲- کوچني ته د تیري او د تیري د ځوابي کاروایۍ ترمینځ توپیر ور زده کول ، تر څو کوچنی تر دې کچې بزدل او پست نه شي چې له ځانه ساتنه ونه شي کړاي.

۳- د تاوتریخوالي او تیري په کولو سره ماشوم ته سزا ورکول خو تر معقول حده پورې.

۴- ماشوم د تاوتریخوالي ناوړه او بدو اغیزو ته متوجې کول، لکه هغه ته داسې ووایې چې تاوتریخوالي چې څوک کوي د هغه نه د



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

خلکو بیا بد راځي ، او دا د ملګرو او ګاونډیانو سره د لانجو او شخړو لامل کیږي ، او داسې نور .

۵- کوچنیانو ته د خپلو همزولو سره په مستیو او بیلابیلو کړنو کې ګډون کولو باندې څه نه ویل خو باید د پاملرنې او څارنې لاندې وي.

۶- د هغې فلمونو د ننداریې او کتنې څخه یې منع کول کوم چې په جرم ، جنایت ، وژنې ، وهنو او ویجاړتیا تکیا دي او همدا راز د کمپیوټر د ځینې هغه ګیمونو او سیالیو څخه یې هم منع کول کوم چې له یادو چارو سره سروکار لري.

۷- په کور کې د ننه دشفقت ، مهربانۍ او زړه خوږۍ ماحول او چاپیریال جوړول ، تر څو ماشوم د ارام او نرم زړي چاپیریال په مینځ کې را لوی شي.

۸- د کوچني د تاوتریخوالي انرژي په ښه سالمه انرژۍ بدلول ، او دا د هغه د کړنلارې په بدلولو سره هغه ګټورو او لیوالتیایې کړنو ته لکه رسم ، ورزش او د یو څه د جوړولو چارې او لاسي بوختیاوې او داسې نور .



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## ۵ ماشومانو د خجالت یا شرم ستونزه لاملونه او علاج

خجالت یا شرم په هغه وخت کې ستونزه بلل کیږي چې خاوند یې د خلکو څخه نفرت کوي، د هغوي سره د یوځای والي او ګډون څخه منع کوي او همدارنګه د وګړو سره یې د خبرو اترو څخه غاړې ته کېږي، د هغه کوچنی بیا تل خوله بنده وي او خبرې نه کوي ، او له خپلو ملګرو سره خبرې نه اړوي او پوښتنې یې نه ځوابوي او یاده کړنه بیا له خپلو ښوونکو سره هم تر سره کوي او دا خجالتیا یا شرم کوچنی د ټولو کلتوري او ټولنیزو کړنو څخه د ګوښې کولو ته هڅوي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## لومړی : لاملونه:

۱- تل ارزونه په نيمګړتياو کول يا تل ځان نيمګړی ارزول ، نو ياد کار خو يا د بدې او ناوړه روزنې په پايله کې را مينځ ته کيږي او يا د هغه پيدايشي بدني مصيبت يا آفت د شتون والي له امله راځي لکه شلوالی ، ددید يا نظر کمزوري او کموالی ، او يا هم د اوريدنې په کچه کې کمزوري او د تن لنډوالی او داسې نور . او يا هم د غريبۍ او فقر له امله وي نو کوچنی بيا ځان د ملګرو څخه کم ارزوي او دا يې بيا خجالت ته رابلي.

۲- کوچنی تل غاړې يا څنګ ته کول او په ځان باندې يې له باور او بروسې سره نه رووړدي کول.

۳- ماشوم هميشه له خلکو څخه ويرول ، او د کوچنيانو سره يې له يو ځاي والي او شراکت نه منع کول .

۴- د رټنې، سپکوالي او د ناوړه نومونو ډيروالی او ايخودنه.

۵- په خبرو کې د ځينو ګډوډيو شتون لکه د خبرو په دوران کې د ژبې نښتل.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۶- د خلکو او همزولو په وړاندې کوچني ته سزا او زوروونه ورکول.

۷- په زده کړه ییزه او تحصیلي مرحله کې ضعف او کمزوري.

۸- د کوچني په ګډوډ او ناسم چاپیریال کې شتون او غتېدنه.

۹- د مور او پلار څخه یا له دې دواړو نه د یو څخه بې برخې کیدل.

۱۰- د ناروغتیایي خجالت او د شرعي حیاء تر مینځ د توپیر نه پیژندل.

## دویم : د خجالت درملنه:

۱- د کوچنیتوب څخه د ماشوم وړتیاوو ته په خبرو اترو او ګډون وده او نمو ورکول.

۲- کوچنی په ځان باندې باور او بررسي ته هڅول.

۳- کوچنی دې ننګول چې له تا پوښتنې وکړي ، بلکې دې ته هم د ادب او درناوي په چوکاټ کې در باندې نیوکه وکړي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۴- د همیشنۍ رټنې او سختۍ څخه ځان ساتنه،تر څو ماشوم همیشه د ډار احساس ونه کړي .
۵- کوچني ته د نورو خلکو په وړاندې له سزا ورکولو څخه ځان ژغورل .
۶- کوچني ته د ټولو اړینو اړتیاو په پوره کولو کار کول ، تر څو کوچنی ځان له خپلو ملګرو څخه نیمګړی ونه ارزوي.
۷- زده کړه ییزو بر لاسیو ته یې هڅول اګر که کچه یې ښکته او ټیټه وي .
۸- کوچنی د پیر پلور ، اخیستنې او ورکونې او همدا راز د مشرانو سره په خبرو کې له کیناستلو او له هغوي سره یې د خبرو اترو په اړلو روږدي کول .
۹- د شریک فامیلي چاپیریال آماده یا تیارول .
۱۰- کوچني سره د شخصي وړتیاوو په وده او نمو کې مرسته او همکاري کول .



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

۱۱- کوچنی له رضامنتیا ، بسنه کولو او په خپل مور او پلار باندې له ویاړ کولو سره روږدې کول اگر که مور او پلار یې شتمن هم نه وي.

۱۲- د متخصصینو ډاکټرانو په واسطې سره یې په خبرو اترو کې ور پیښې ستونزې درملنه کول.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## سرچيني :

١- د بچو سره د پلرونو ستونزی . د ډاکټرانو په ګډه ليکنه.
٢- د بد بختيو سره شخړه.محمد ديماس
٣- په اوسني وخت کې ځوي ځنګه وروزئ.دکتور حسان شمسي باشا
دکتور سال سيفير
۴- پرته له غبږ ادب ورکول. جيري وايکون بريارة يونک.

هيواد والو د ديني پوهاوی باورې سرچينه
W ww.larkhud.com



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner